**مطبوعاتي اعلاميه**

**د لبنان له پخواني لومړي وزير فواد سينيورا سره د حزب التحرير ولايه لبنان د استازې کتنه**




**(ژباړه)**

۲۰۱۸ د مارچ په ۳۰مه د جمعې په ورځ د حزب التحرير ولايه لبنان د مرکزي اړيکو د کمېټې استازو د ډاکټر محمد جابر په مشرۍ او انجنير صلاح الدين ادادا په ملګريتوب د ياد هېواد له پخواني لومړي وزير فواد سينيورا سره د نوموړي په دفتر کې ليدنه وکړه او د لبنان، سيمې او د دغه هېواد د راتلوونکو ټاکنو په اړه يې خبرې وکړې. ياد استازي د دغه هېواد د راتلونکو ټاکنو او په سياست کې له ډلو څخه د ګټه اخيستنې په اړه د حزب التحرير موقف څرګند کړ. همداراز يادو استازو د لبنان د اوسنيو روانو حالاتو او د هغه کړکېچ په اړه چې دا هېواد پکې ډوب دی خبرې وکړې او له دغه حالت څخه د خلاصون لپاره يې چې د دغه هېواد د اوسني جوړښت او بهرنيو اړيکو له امله دی، د حزب التحرير ليد لوری بيان کړ، ياد هېواد ته يې يوازې اسلامي حللارې وړاندې کړې، نه په اوسني منحصر جوړښت او بهرنيو اړيکو باندې ولاړې حللارې.

د حزب التحرير له خوا ټاکل شوي استازي پر دغو موضوعاتو خبرې وکړې: د سياستوالو د رول اهميت، په ځانګړې توګه هغه مسلمانان چې د خلافت د بيا تاسيس لپاره چې پر دوی او ټولو مسلمانانو واجب دی هڅه کوي او د دې اړتيا چې د مسلمانانو په چارو او روانو حالاتو کې اغېزمن رول ولرو او د مسلمانانو د ګټو لپاره هڅه وکړو.

**د حزب التحرير- ولايه لبنان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: H.T.L۳۹/۱۰**

**۱۴۳۹هـ.ق، د رجب ۱۳مه**

**۲۰۱۸م، د مارچ ۳۱مه**

**ژباړن: فياض**